الدرس التاسع
نور لسم درس

عدل النبي ﷺ
د رسول الله ﷺ عدل او انصاف

نبي ﷺ هر لحاظ سره د عدل او انصاف قائم کونکی وه ، د خپل رب سره ئی معامله په عدل وه يعنی د الله تعالی حقونه به ئی په انصاف سره آداء کول ، د خپل ځان سره به ئی عدل کولو ، د خپلو بيبيانو سره عدل کولو ، د رشتدارو سره د عامو انسانانو سره که موافق به وو او که مخالف تردی پوری چی د متکبر دشمن سره به ئی هم عدل او انصاف کولو ، په حالت د سفر او حضر کښې به نبی ﷺ خپل ځان په ملګرو باندی نه غوره کولو د هغی پشان تکلفونه به ئی په خپله هم برداشت کول ، عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی ، د عزوه بدر په موقع باندی د سورلۍ دپاره د هر دريو کسانو په سر باندی يو أوښ وو ، ابو لبابة او علی رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ د أوښ ملګری وه چی کله به د رسول الله ﷺ د پيدل تللو نمبر راغلی و دوارو صحابو به په يو آواز وئيلی ، اے د الله رسوله ! مونږه به پياده زو ته د سورلۍ نه مه راکوزيږه ، نبی ﷺ وفرمائيل : تاسو دواړه نه زمانه ډير طاقتور ئي او نه زه د أجرنه بے نيازه يم .

أُسيد بن حضير ﷺ خپلو ملګرو سره ګپ شپ لګولو ، او هغوی ےے خاندول ، نبی ﷺ يو لرګۍ د هغه ترخ ته ورنيزدی کړو ، أُسيد بن حضير ﷺ اوفرمائيل ، اے د الله رسوله ! ماله دی تکليف راکړو ، ما لا د بدل اغستلو موقعه راکړه ، نبی کريم ﷺ ورته وفرمائيل ، راشه خپله بدله دی واخله هغه وئيلی ستا بدن مبارک باندی قميص دی او زما قميص نه وو ، نبی کريم ﷺ خپل قميص پورته کړو ، أُسيد بن حضير ﷺ د نبی کريم ﷺ مبارک بدن پسی ورجښت شو او د نبی ﷺ بدن مبارک ئی خُکل کړو او وفرمائيل ئی اے د الله رسوله زما آرمان وو چی زه ستا پاک بدن خُکل کړم ،

رسول الله ﷺ د الله تعالی مقرر شوی حدود پامال کول نه شو برداشت کولی ، دی دپاره چی د خلقو مينځ کښې انصاف وکړيشی ، اګر که خطاء کار به د نبی ﷺ رشتدار يا نزدی دوست ولی نه وو ، د بنو مخزوم قبلۍ يوی ښځی غلاء کړی وه ، خلقو د سزاء د معاف کولو دپاره سفارش وکړو تردی پوری چی أُسامه ﷺ هم سفارش وکړو او سفارش ئی قبول نه شو ، او نبی کريم ﷺ هغه تاريخی الفاظ بيان کړل ، چی نن هم د قانون اسلام روح دی ، وفرمائيل : اے خلقو ستاسو نه مخکښې خلق صرف ددی د وجی نه هلاک شوی دی چی که په هغوی کښې به مالداره غلاء وکړه هغه به ئی معاف کړو ، او که يو کمزوری انسان به غلاء وکړه نو هغه باندی به ئی حد قائم کړو ، د الله تعالی په ذات باندی قسم دی ، که بالفرض فاطمه لور د محمد ﷺهم غلاء کړی وی ما به د هغی هم لاس پری کړی وی ،